اندېښمن شینواری ۲۰۱۳/۰۷/۰۹

# روان حالات، میډیا او افغانستان

هره ورځ که اخبار وګوری، تلویزیون ګوری، راډیو ته غوږ شي نو یو غږ به واورې چي د میډیا ازادي، میډیا داسې او میډیا هغسې، مونږ خو ئي پدې پوه نشو چي دوي میډیا له کوم ډول ازادي غواړي او کوم ډول ازادي ورته ورکوي؟ هره ورځ په لس ګونه نوې ویب پاڼې، راډیوګاني او د رسنیو نور ډولونه رامنځته کېږي مګر تغییر او تبدیل هېڅ رامنځته نشو، زوړ مولا او زړې ئي مسلې، د نړېوالي ټولني نه که څه هم ټولې لارې ورکې شي نو بیا د افغان حکومت باندې د میډیا د ازادې تورونه پورې کړي، هغه میډیا چي افغانستان ئي په شرمونو وشرمولو، هغه میډیا چي پردې ډول ته نڅا کوي، هغه میډیا چي هېڅ په هېڅه ئي افغانستان د نړۍ تر ټولو مفسده هېواد نړېوالو ته ورپېژندلو، هغه میډیا چي خپل خو هېڅ نلري مګر سحر او ماښام یواځې د نیویارک ټایمز او واشنګټن پوسټ خبرونه او مقالې راژباړي او د خلکو له ذهنونو سره لوبې کوي.

غواړم چي خپل مطلب ته راشم او هغه هم دا چي پرون ورځ د لندن په ښار کې د امریکا د سفارت مخې ته په لس ګونو ملت پالو او په هېواد مئینو افغانانو مظاهره وکړه مګر خبر ئي هېچا هم خپور نکړو، دغه مظاهره کوونکو په لوحو مختلف شعارونه لیکلي ول او له امریکا او له نړېوالي ټولني څخه ئي غوښتل چي د سولې روان بهیر دې افغاني وي، د سولې دفتر دې په قطر او پاکستان کې نه بلکه په افغانستان کې وي، سوله غواړو خو سوله د افغانستان د سر په سودا نه غواړو، سوله غواړو، کله ئي غواړو همدا اوس ئي غواړو او همدغه شان نور....

د حیرانتیا او د تعجب خبره خو داده چي کله د افغانستان او په هېواد کې د روان کړکېچ په اړه ملت پاله خلک راپاځي او څه کول غواړي نو دغه میډیا هم داسې ګونګه او ورکه شي لکه پېریان او دیوان، په لس ګونه افغاني ویب پاڼې او رسنې دي مګر یو ئي هم پرون ورځ د هغې مظاهرې راپور خپور نکړو، تر ټولو زیاته ګیله خو له بي بي سي څخه کېږي چي په دا هر څه ولې داسې سترګې پټوي، نومونو ته خو ئي چي کتښېني نو یو ټرک او لارې ئي یواځې تخلصونه نشي وړلې مګر که د هېواد خبره شي نو بیا ئي نه د سرې پته لګېږي او نه ئي د تخلص، همدغه شان مې خبر ترلاسه کړو چي د امریکا غږ اشنا راډیو یو خبریال ته غېرمستقیم اخطار هم ورکړل شوې ؤ کچېرته ددغه غونډې او مظاهرې ته ورغې او راپور ئي ورکړو نو وظیفې ته دې نه ورځې، عجبه رسنۍ دي او عجب ئي کارونه، ددې ترڅنګ په لندن کې د پښتو څانګې ټولو ویب پاڼو ته هم خبر ورکړ شوې ؤ مګر یو هم حاضر نشو، نو که خبره د میډیا او د میډیا ازادې وي نو ورکه دې شي دغسې ازادي چي د هېواد په ګټه چي کوم کار تمامېږي هغه دې شاته وغورځوي او نه دې خپروي مګر سحر او ماښام دې نیویارک ټایمز، واشنګټن پوسټ، بي بي سي او الجزیرې چاپلوسي ته نیغ ناست وي.

پای






افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ